مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۱۹/۱۱/۲۵

# د پوهني رڼا

چی اسرارو ته له فهمــــه، لار پیدا کړو
مــعرفت په نور تیارې ، په ځان رڼا کړو

د تـحقیق سترګي، اسرارو ته په کار دي
په ادراک سره چی حــــــل د معما کړو

دې صـــحرا کي د تحقیق پښی کړو تناکی
تر څو پوی ځان، په رموز د دې دنیا کړو

په ړندو سترګو له څه، ناز د تــحقیق کړو
په کار دا ده چې د زړه سترګی، بینـــا کړو

که د عــــــلم کرامت موږ ته حاصل شي
د پو هـــــــــني په رڼا به، لار صفا کړو

که د علم په ښیـــــګڼه، مونږه ، پوی شو
دغه شپې د تورتمــــــــــونو به،سبا کړو





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ